رفارم زموږ په ادارو کې يو تدريجي غوره والي ته وايي. که څه هم دا سياسي او اقتصادي رفارم نه وي. د خلاصېدنې/پرانيستنې څخه مراد په لويديځ کې چې څه غوره دي، د هغې زده کول دي. خلکو په پېل کې د رفارم او خلاصېدنې پر پيغام باور نه درلود، لکه څنگه چې فريد زکريا هم وويل. خو زموږ ستر رهبر ډينگ شيوپينگ ويل، مناظرې مه کوئ، عمل کوئ!. زما په گومان ډينگ شيوپينگ به د «مونک» مناظرو شوقي نه و. دی به شايد د «نايک» شوقي و: فقط ويې کړئ! په حقيقت کې د وروستېو درېو لسيزو بدلون د رفارم او خلاصېدنې ځواک ښودنه کړې ده. اوسمهال ځوان وگړي زموږ له پرمختگ څخه ناخوښ دي. دوی ډېره لېوالتيا

لري، چې پر نورو رفارمونو او خلاصېدنې ټينګار وکړي. هغوی مشتاق دي، چې د انټرنيټ د ځواک له کبله د نورو رفارمونو او خلاصېدنې لپاره هلې ځلې وکړي. زما دا لومړنی پيغام د انرژۍ په تړاو وه. انرژي اوس هم په چين کې شته ده. خو پوښتنه دا ده چې موږ پر کوم لوري روان يو، زموږ مسير پر کوم لوري دی؟ زموږ منزل او مسير د دويم کليدي ټکي پر لور ده، چې هغه بيا بيازېږېدنه يا بيا احياء ده. زموږ مسير/منزل زموږ د ستر تمدن د «ټانګ کورنۍ» واکمني ده، چې ۱۵۰۰ کلونه وړاندې تېره شوې. زموږه بيا احياء له لويديځ څخه غچ اخيستل نه دي او يا هم په نړيواله کچه پر امريکا د پريکړه ييزې سلطه کوونې بريا لمانځنه نه ده. بلکې د يو سوله ييز، پر ځان باوره او پرانيستي تمدن بيا احيا ده په تېره بيا د ټانک کورنۍ. او همدا د دې بدلون منزل دی، او په دې تړاو موږ تر اوسه خپل نيمايي منزل ته رسېدلي يو.

درېيم کليدي ټکی چې زه يې له تاسې سره شريکول غواړم هغه نفوذ دی. څه ډول نفوذ او يا هم په راروانو نويو (۹۰) کلونو کې به چين په نړۍ کې څه ډول نفوذ ولري. زه غواړم استدلال وکړم چې دا ډول نفوذ به څو بُعدي وي. لومړی؛ د چين رامنځته کېدنه د نړۍ هغو بې وزلو سيمو لکه افريقا او نورې کم پرمختللې سيمو ته هيله ورکړې. هغه خلک چې په دې سيمو کې اوسېږي، هغوی له ځانه پوښتي، چې چين هم بې وزله و، چين هم د طبيعي وسايلو له ګرداب سره مخ و. که چين يې کولای شي، نو موږ يې ولې نشو کولای. نو موږ د نړۍ ډېرو بې وزلو ته دا هيله ورکوو. دا د نفوذ لومړی بُعد دی. د چينايي نفوذ دويم بُعد نورو ته د ټولنيزو او اقتصادي ادارو يو بديل ماډل ورکړی دی، چې هغه بيا د لويديځ او په تېره بيا د امريکا له ماډل سره توپير لري. په دې چينايي ماډل کې؛ که موږ يې د لوديځ له ماډل سره پرتله کړو نو ډېر وزن د انفرادي آزادي پرځای ټولنيز بهبود او ټولنيز ثبات ته ورکړل شوی دی. د چين  د نفوذ درېيم بُعد نړيوالې اړيکې دي. د چين د ستر تمدن په تېره بيا د «ټانک کورنۍ» بيا احياء به موږ ته يو نوی پاملرنه (فوکس) راکړي؛ په نړيوالو اړيکو کې يې پاملرنه د سولې او همکارۍ په تکل کې ده. موږ دا د نړيوال مالي بحران په تېرو دوو کلونو کې وليدل. په لنډو، زه خپل نظر پر تاسو نه تپم؛ برعکس زه له تاسو غواړم چې تاسو پخپله خپلو پايلو ته ورسېږئ، په تېره بيا د انرژۍ، بيا احياء او نړيوال نفوذ ته په کتلو سره. مننه!

**روډيارډ ګريفکس:** ډاکټر کېسنجر ستاسو نوبت دی.

**هينري کېسنجر:** د يو داسې چا لپاره چې د جرمنۍ په ويلو رالوی شوی وي، شپږ دقيقې وخت زما په ګومان ډېر کم وخت دی څو زه يوه جمله هم ووېلای شم. زما د دې بحث همکارانو د چين د عظمت په باب خبرې وکړې، زه د چين د فوق العاده لاسته راوړنو درناوی کوم، او هېڅوک به هم له دې حقيقت څخه سترګې پټې نه کړي. زه پر دې ټينګار کوم چې چين په وروستېو څلورو لسيزو کې، چې ما په مخامخه توګه مشاهده کړې ده، ډېر څه ترلاسه کړي دي؛ خو زموږ پر وړاندې تر ټولو اساسي قضيه دا ده چې آيا يوويشتمه پېړۍ به يوه چينايي

پېړۍ وي او که نه؟ زه وایم چې چین به په یوویشتمه پېړۍ کې نه دا چې په محلي کچه له یو شمېر پراخو ستونزو سره مخ شي بلکې له خپلو نږدې ګاونډیو سره به هم ښکېل شي. له همدې کبله زما لپاره ستونزمنه ده، چې زه یوه چینایي محوره نړۍ په ذهن کې انځور کړم. زه پر دې باوري یم چې دغه مفکوره چې یوازې یو هېواد به پر نړۍ سلطه ولري، دا پخپله زموږ د نړۍ سوء تفاهم دی، چې موږ پکې اوسېږو.

چین په اقتصادي توګه ډېر څه ترلاسه کړي دي؛ خو دا یو داسې هېواد دی چې باید هر کال ۲۴ میلیونه کاري فرصتونه وزيږوي، هر کال تقریباً ٦ میلیونه خلک په خپلو ښارونو کې جذب کړي، او دغه راز دا باید له خپلو ۱۵۰ څخه ۲۰۰ میلیونو بدلېدونکي-رابدلېدونکي نفوس سره هم سر و کار ولري، دغه راز دا باید له خپلې ټولنې سره هم مناسب چلند وکړي؛ چې پکې د چین سواحلي سیمې د پرمختللو هېوادونو په څېر دي او له سواحلو څخه لرې سیمو کې یې بیا د ژوندانه کچه د وروسته پاتې هېوادونو په څېر دي؛ چین باید له دې ټولو سره په یو سیاسي نظام کې مناسب چلند وکړي.

د جیوپولیتیکي لیدلوري له مخې چین په تاریخي توګه د یو شمېر وړو هېوادونو په انحصار کې پاتې شوی چې دا هېوادونه په انفرادي توګه نه شي ګواښلای؛ خو که چېرې متحد شي نو د چین لپاره ګواښ جوړولای شي. له همدې ځایه په تاریخي توګه د چین بهرنۍ تګلاره د بربریانو د اداره کولو په توګه هم پېژندلای شو. چین به هېڅمهال هم د برابرو ځواکونو هېوادونو سره معامله ونه کړي. څکه له داسې نړۍ سره تطابق هم د چین لپاره یوه ننګونه ده. او اوسمهال چین تقریباً ۱۴ ګاونډیان لري، چې یو شمېر یې واړه هېوادونه دي او خپل هویتونه له چینایانو سره هم تړلای شي، او یو شمېر یې بیا ستر دي، او په تاریخي توګه مهم هم دي. هر وخت چې د نړۍ د سلطه کولو هڅه کېږي، نو دا به په دې سیمه کې غبرګون پیدا کوي او بیا به د نړېوالې سولې لپاره ویجاړوونکې وي. تر کومه ځایه چې زه د نیال فرګوسن له خوا اقتباس شوی یم، نو یقیناً دی زما ژوندلیک لیکوال دی، او دی به په هر څه کې خپله وروستۍ پریکړه ولري چې زه یې وایم. خو بیا هم زما هغه خبره د چین د نظامي محاصره کوونې په تړاو وه. زه به دا ووایم، چې زموږه یوه ننګونه دا هم ده، چې څنګه چینایي حقونو ته ځای ورکړای شو، او د چین هم یوه ننګونه دا ده چې څرنګه خپل ځان په یوه داسې نړۍ کې چې دی پکې هیژومنیک ځواک نه وي ورسره عیار کړي. که زه د دې اجازه ترلاسه کړای شم، چې د مناظرې کومه طرحه زموږ پر وړاندې ده بیا یې تکرار کړم: د نړۍ پر وړاندې ستونزه دا نه ده چې یوویشتمه پېړۍ به چینایي پېړۍ وي، د نړۍ ستونزه دا ده چې د یوویشتمې پېړۍ پرمهال به چین بې له شکه ځواکمنېږي او موږ به له چین سره یوځای کار وکړای شو، او چین هم له موږ سره یوځای د نړیوال جوړښت په جوړولو کې کار وکړي. شاید دا به د نړۍ په تاریخ کې لومړۍ ځل وي، چې یو راپورته کېدونکی ځواک به په نړیوال سیستم کې دننه شي او سوله او پیشرفت

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

به پیاوړی کړي. ما په خپل کتاب کې د خپلې تجربې په بنسټ دا ویلي؛ خو بیا هم د دې امکان هم ډېر هیله من نه دی. خو په بل اړخ کې به موږ هېڅمهال هم د اتومي وسلو تکثیر، چاپیریال، سایبر سپیس او نورو هغو ستونزو سره معامله ونه کړو چې په نړیواله کچه پرې مفاهمه کېږي. زما په اند ستونزه دا نه ده چې یوویشتمه پېړۍ به چینایي پېړۍ وي، خو آیا موږ به وکولای شو چې چین د یوویشتمې پېړۍ د یوې نړیوالې نوې جوړېدونکې مفکورې په توګه وپېژنو؟

**روډیارډ ګریفیکس:** په دې بحث کې یو شمېر دلچسپه دلایل وړاندې شول، او دا چې دغو دلایلو ته نور هم دوام ورکړو نو زه له دواړو بحث کوونکو ډلو څخه غواړم چې په چټکۍ د یو بل پیلیزو وینااوو ته ځوابیه غبرګون وښیي. په مشخصه توګه زه غواړم چې تاسو هغه ټکي رابرسیره کړئ، چې تر ټولو زیات ورسره ناهمغږي یاست. نیال فرګوسن، لکه څنګه مو چې منلې وه زه غواړم چې لومړی پیل تاسو وکړئ.

**نیال فرګوسن:** زه له فرید زکریا څخه پوښتنه لرم، که ستاسو استدلال سم وي، او چین به د جاپان تاریخ تکراروي، نو که د جاپان کوچنی حجم او د چین د پرمختیا کمه کچه په نظر کې ونیسئ او فکر وکړئ چې چین به هم د جاپان اقتصادي تاریخ تکرار کړي، نو دا خو بیا یقیني ده چې یوویشتمه پېړۍ به چینایي پیړۍ وي؛ ځکه مخکې له دې چې د چین اقتصادي وده هم د جاپان پر څېر کمه شي نو چین به نه یوازې د نړیوالې جی ډي پي ډېری برخه ترلاسه کړي بلکې د نړیوال ځواک ډېری برخه به هم خپله کړي. ځکه برعکس له جاپان څخه، چین هېڅمهال هم خپل ملي حاکمیت د هر ډول نظامي ماتو له لارو نه دی بایللای. لکه څنګه چې جاپان په ۱۹۴۵ کال کې وبایلود. نو پر دواړو اقتصادي او جیوپولیتیکي برخو کې د چین له خوا د جاپاني تاریخ تکرار له امکانه لرې ده.

**روډیارډ ګریفیکس:** فرید زکریا، تاسو ځواب ورکړئ!

**فرید زکریا:** د جاپان بېلګه موږ ته دا راښيي، چې هېڅ یو څه هم د تل لپاره په یوه مستقیمه کرښه نه درومي. هېوادونه په مشخصه توګه د اقتصادي مدرنیزم پر لور روانېږي، او مومي چې دوی له ستونزو سره مخ دي. که تاسو وګورئ، په تېرو سلو کلونو کې یو شمېر هېوادونه چې في کس عاید یې له ۱۲۰۰۰ امریکایي ډالرو څخه زیات شوی دی نو تاسو به داسې ډېر کم هېوادونه وموموئ. دا د لېوالتیا ځای دی چې دا ډول هېوادونه یوازې پنځه دي.

داسې ډېر هېوادونه دي، چې هغوی په ابتدایي صنعتونو کې، د رفارم د پروسې پر پېلولو او د اقتصاد له مخې د حکومت په لرې کولو کې ښې لاسته راوړنې لري. خو وروسته بیا څرګندېږي، چې د ټولنې هر هغه کس چې موډرنایز کېږي باید دوی پورتنۍ طبقې ته پورته شي، لکه څنګه چې په سویلي کوریا، تایوان، هانک کانګ او سنګاپور کې وشول. زه غواړم وښیم چې چین به له اقتصادي، ډیموګرافیکي، سیاسي او جیوپولیتیکي ستونزو

سره دا ومومي چې اقتصادي پورته والی به تر څه حده پېچلی او سخت وي، لکه څنګه چې هینري کېسنجر هم ورته اشاره وکړه. دغه ستونزې به چین اړ کړي، چې خپلو داخلي مسئلو ته پاملرنه وکړي او دا به چین پر یو هیژومنیک ځواک بدلېدا ته پرېنږدي. زه په دې کې هېڅ شک نه لرم چې چین به یو پیاوړی اقتصاد ولري او نه هم په دې کې شک لرم چې چین به پر نړیوال ستیج یو مهم لوبغاړی وي؛ خو پوښتنه دا ده چې آیا یوویشتمه پېړۍ به یوه چینایي پېړۍ وي او چین به پکې سلطه لرونکې وي؟ زه بیا دې پوښتنې ته «نه» وایم.

**روډیارډ ګریفکس:** ډیویډ! غواړم ستاسو نظر ببرته د جاپاني بېلګې په تړاو واخلم. دا زموږ د مناظرې تر ټولو فعاله برخه وه. د ناخالصو تولیداتو کلونه د اقتصاد او ریاست ترمنځ نږدې همکاري او له دې زیاته په ۱۹۸۰ لسیزه کې دغه حس چې جاپان به هم د چینایي ټولنې په څېر شي، ولې د جاپان تېر تاریخ د چین راتلونکی تاریخ نه شي کېدای؟

**ډیویډ لي:** اجازه راکړئ، چې ستاسو پوښتنې ته ځواب درکړم او د فرید زکریا او ډاکټر کېسنجر ځینو ټکو ته په شریکه ځواب ووایم. ستاسو استدلال سم دی. دا ټکي چې تاسو بیان کړي، بې له دې به هم پیاوړي وای که چیرې دا د چین په تړاو دېرش کلونه وړاندې ویل شوي وای؛ خو بیا هم له دې سره، چین وده کوي. چین په تېرو دېرشو کلونو کې د بدلون په حال کې دی. زما لیدلوری هم همدا دی، چې نننی چین له خپلو ټولو ننګونو سره بیا هم د بدلون په حال کې دی. راځئ چین له جاپان سره پرتله کړو. زه فکر نه کوم، چې جاپان چې د ۱۹۹۰ لسیزې په پېل کې د سقوط پر لوري ولاړ، هلته داسې کوم اساسي بدلون رامنځته شوی وي؛ خو په چین کې موږ د اساسي بدلونونو شاهدان یو. دغه راز جاپان هم له چین څخه زده کړه کوله. زه دا استدلال نه کوم چې جاپان به په نړۍ کې یوازینی ابتدایي کلچر درلودونکی و چې له چین سره تړاو لري. د فرید زکریا د اقتصادي ودې د ځینو ټکو په تړاو له ده سره په بشپړه توګه همغږی یم، چې د چین په څېر یو لوی اقتصاد به هېڅمهال هم بیا دوه عددي جي ډي پي وده ونه لري؛ دا به راکمېږي. خو کله چې د امریکا متحده ایالات د یو نړیوال ځواک په توګه راپورته کېده نو هغه د چین د اوسنۍ ودې په پرتله وده نه کوله. مخکې له دې چې د نړۍ برلاسی ځواک شي، د امریکا وده په انتهایي زیاته کچه کمه شوه. خو بیا هم اقتصاد یې په مسلسله توګه وده کوله. په اوسني چین کې زه انرژي وینم. زه بدلونونه وینم. په پای کې غواړم د ډاکټر کېسنجر یوې نقطې ته اشاره وکړم، دی په چین کې وروستېو اتلسو پېړیو ته اشاره کوي. زه په بشپړه توګه له هغه سره همغږی یم؛ خو دلته یو توپیر شته. په اوسني چین کې موږ په ډېره لوړه کچه خپل ماشومان بهر ته د زده کړو لپاره لېږو. تاسو فکر وکړئ، چې د ټورنټو د محصلینو شپږ چنده یوازې چینایي محصلین په امریکا او کاناډا کې زده کړې کوي.

دوی د بدلون منابع دي. دغه ماشومان چې زده کړې کوي، نو د چین عروج به له امریکا څخه توپیر ولري. زه دا فکر هم کوم چې دا به د چاپان په څېر له ورته ستونزو سره مخ نه شي.

**روډیارډ گریفکس:** ډاکټر کېسنجر! آیا تاسو هم غواړئ چې څه نظر ورکړئ؟

**هینري کېسنجر:** دا چې چین د بدلون په حال کې دی، په دې کې څه شک نشته. که یو څوک د ۱۹۷۱ چین له اوسني چین سره پرتله کړي، نو وبه مومي چې په فزیکي، ډیموگرافیکي (د یو ماشوم تګلاره) په توګه اساسي بدلونونه رامنځته شوي دي. دا د یو ماشوم تګلاره په چین کې څه ناڅه ارزښتونو ته هم بدلون ورکړی دی. په راتلونکو دېرشو کلونو کې یوازې دوه ډوله خلک چې په تقاعدي سن کې دي هغوی به کار کړي. په ۲۰۰۵ کال کې دا ۹,۲ خلک و، چې هغوی د تقاعد شوي سن خلکو ساتنه کولای شوه. نو دا به یو شمېر بېلابېل چلندونه هم وزیږوي. خو دغه بدلون باید څوک له نړیوال نفوس سره مغشوش نه کړي. چین به د ښاري پراختیا، ډیموگرافیکي ننګونو سره مخ وي، او له نړیوال سیستم سره د عیارېدو په موخه به چین یو مستقل مشارکت کوونکی وي، بې له دې چې دی د نړۍ یو محور وي، چې دا بیا په تاریخي توګه هم پر چین ډېر پلي کېږي. دا د حل وړ ستونزې نه دي. خو دا باید د لویدیځ د امپریالیزم له مفکورې سره مقایسه نه شي. په تاریخي توګه د چین نړیوال رول د درناوي په ترلاسه کولو متکي/منحصر دی. دوی په کلتوري لحاظ هم هېڅمهال د یو نړیوال رول لپاره مبارزه نه ده کړې. زه فکر کوم چې د چین لپاره اړینه ده چې پر لوېدیځ د برلاسي پر ځای، لوېدیځ سره همکاري وکړي تر څو چې خپل چاپېریال او داخلي وضعیت مهاروي.

**روډیارډ گریفکس:** فرید زکریا صاحب آیا تاسو هم د هینري کېسنجر له دې استدلال سره څه اضافه کول غواړئ؟

**فرید زکریا:** زه یوازې غواړم له نیال فرگوسن څخه یوه پوښتنه ولرم. کاش چې ما د نیال فرگوسن ټول ۴۶ کتابونه لوستي وای، څو ما د هغه له دغو کتابونو څخه دا ډول اقتباسات موندلي وای چې له اوسني دریځ سره یې په ټکر کې و. خو بیا هم زه له هغه څخه یوه ساده پوښتنه لرم. نیال د جیوپولیتیکس یو ښه زده کوونکی دی. او زه حېران یم چې دی څنګه دې پایلې ته ورسېد چې چین د الوت پر مهال دی. که څه هم په دې کې شک نشته خو بیا هم اصلي ستونزه دا ده چې چین په یوه جیوپولیتیکي تشه کې الوت نه کوي، که تاسو وروستي یو کال ته ځېر شئ، نو چین یو ښه کال درلود. له مالي بحران څخه په بریالیتوب راووت او اوسمهال پر ځان ډېر باوري دی. خو که اوس د چین چلند ته ځیر کېږو. په کوپنهاګم کې چین امریکا او د امریکا ولسمشر وشرماوه، او د روغې جوړې له کولو منکر شو. چین جاپان هم پارولی وه، د سینکاکو د ټاپو ګانو قضیه کې چین جاپان هم پارولی دی. کله چې شمالي کوریا د سویلي کوریا کښتۍ ډوبه کړه او سویلي کوریا له چین څخه وغوښتل چې د شمالي کوریا دغه کړنه وغندي نو چین انکار وکړ. ویتنامایان او فلیپینیان هم چین ته په غوسه دي؛ ځکه چین د چین په سویل سمندرګي کې

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

خپل ملي حاکمیت په زوره پلي کوي. دا یوازې د یو کال کیسه ده. او دا یو داسې مهال دی چې چین د نړۍ برلاسی زبرځواک نه دی. آیا تاسو فکر کوئ، چې دغه ټول هېوادونه به د چینایانو برلاسي ومني؟ او ایا ممکنه ده چې موږ له هندیانو، ویتنامیانو، سویلي کوریایانو، جاپانیانو او له اندونېزیا څخه یو احساساتي غبرګون ونه وینو؟ په دې دومره چټکتیا چې چین به پر نړۍ سلطه ومومي تر ډېره سمه نه برېښي.

**نیال فرګوسن:** مننه فرید زکریا ستاسو له پوښتنې څخه. ما په دې وروستیو کې ستاسو په یوه لیکنه کې چې په ټایمز مجله کې خپره شوې ده موندلې ده چې تاسو له اقتصاد سره سرسري برخورد کوئ. نو دا ماته یو فرصت راکوي، چې تاسو له دې ستونزې وباسم. د مالي بحران پرمهال د چین اقتصادي وده د نړۍ په اقتصاد کې د چین رول په اساسي توګه بدل کړی دی. تر مالي بحران پورې، چین مخ پر راپورته کېدونکو مارکېټونو کې له نورو سره رقابت درلود لکه په امریکا او کاناډا کې. چین د ارزانه توکو صادروونکی وو. او په اړینه توګه یې په دغو مارکېټونو کې خپلو رقیبانو ته ماتې ورکړه. دا تر ډېره د چینایي نرخونو له کبله وه. او بیا مالي بحران پرمختللو اقتصادونو ته ضربه ورکړه او د هغوی اقتصاد یې کساد او یا هم ډیپریشن ته ورنږدې کړ. څه چل وشو؟ چین په نړۍ کې پر یوې بریالۍ انګیزې واوښت او په دې ډول د چین رول تغیر وکړ. دا نور د راپورته کېدونکو مارکېټونو سره رقیب نه دی بلکې دا یې پر مشکل حل کوونکي اړولی دی. دغو مارکېټونو وموندله چې تر ټولو بدلېدونکی محرک مارکېټ چې دوی به پکې خپل توکي وپلوري چین دی. او یا د بخت د بېرته راګرځېدلو له کبله د نړۍ تجارتي اسلوب تغیر وموند او د هند په ګډون د چین اسیایي ګاونډیانو وموندله چې نوی چین د دوی رقیب نه دی خو نوی چین د دوی د توکو لپاره یو مارکېټ دی، نه یو رقیب.

دغه اسلوب به همداسې دوام وکړي؛ ځکه د چین د وروستي پنځه کلن پلان موخه دا ده چې د چین پاملرنه له صادراتو څخه داخلي تقاضا او مصرف پر لور واړوي. همدا لامل دی، چې دغه نظریه چې دغه ټول آسیایي هېوادونه به د چین پرضد ودروي تر ډېره یو خیال دی. په اقتصادي توګه دغه هېوادونه پر چین تر ټولو زیات متکي دي. او که دوی سیول ته ولاړ شي او هلته له خلکو سره خبرې وکړي او یا تاسو له موکیش امباني سره خبرې وکړئ، چې د هند تر ټولو شتمن سړی دی، نو هغه به هم تاسو ته ووایي، چې د چین مارکېټ د نورو اسیایي هېوادونو لپاره څومره ستر دی. او همدا زما لپاره یو مناسب دلیل دی چې ولې به یوویشتمه پېړۍ یوه چینایي پېړۍ وي. ځکه ټول دغه اسیایي مارکیټونه به پر چین تکیه وي.

**روډیارډ ګریفکس:** ډیویډ زه اوس تاسو ته راګرځم او بیا به فرید زکریا او هینري کېسنجر ته. وروسته به سالون ته د یو شمېر پوښتنو لپاره وروګرځو.

**ډيويډ لي:** فريد په مطلقه توګه صحيح دی، چې کله دی په تېر یو کال کې د چين او د ګاونډيانو ترمنځ يې د کړکېچونو په تړاو مشاهده کوي. خو موږ بايد له دې هم ژور ولاړ شو. موږ بايد سطحي چلند ونه کړو لکه موږ يې چې پر تلويزونونو وينو. ښښنه غواړم که څه هم تلويزون اړين/ارزښتناک دی، په تېره بيا د فريد زکريا پروګرام چې زه يې ډېر خوښوم؛ خو موږ بايد له سطحي نظر څخه اخوا ولاړ شو. څوک تعرض کوونکی دی؟ کومې ډلې پاروونکې وې؟ دا هېڅمهال هم چين نه و.

د بېلګې په توګه تاسو د سينکاکو ټاپوګانو قضيه راواخلئ او د جاپان ښکېلتيا. د جاپان حکومت يو شمېر چينايي ملاحان ونيول او پر دوی يې خپل داخلي قانون پلي کړ. چينايي لوري هڅه کوله چې له دوی سره سوله‌ييز چلن وکړي. دغه راز تاسو د کوپنهاګم خبرې اترې هم درواخلئ. چين هلته کوښښ کاوه چې له نورو هېوادونو سره هدفمند توافق ته ورسېږي. چينايي لوری تر ډېره تړل شوی و؛ ځکه د چين حکومت چې د هر څه ژمنه کوي، د چين حکومت بايد په راتلونکي کې په خپلو ژمنو وفا وکړي. موږ نه شو کولای ووايو چې زموږ پارلمان بدل شو او يا هم نوي پارلمان دغه موافقې باطله کړي. له امريکا سره د خبرو اترو په برخه کې دا د امريکا د نوي ولسمشر بارک اوباما له خوا يو نمايش و. ولسمشر اوباما د خبرو اترو کوښښ کاوه خو دغه موافقه د کانګرس له خوا رد شوه. په بل اړخ کې دا ډول چلند په چين کې کار نه ورکوي. زه سپارښتنه کوم، تاسو بايد نورو ثبوتونو او علامو ته وګورئ. د مالي بحران په درېوو کلونو کې چين کوښښ کاوه چې نړيوال مالي سيستم باثباته کړي. د رينمينلي (د چين کرنسي) د نورو پيسو برعکس د امريکايي ډالر په مقابل کې خپل ارزښت کم نه کړ.

همدا راز چين د مالي بحران پرمهال پر امريکا باندېونه هم ونه پلورل. چين يو باصبره اوږدمهال پانګه اچوونکی دی، چې له اوسني اروپا او د امريکا له اوسني حکومت څخه ملاتړ کوي. زه هيله لرم چې موږ بايد لوی انځور وګورو.

**فريد زکريا:** نيال فرګوسن يو غوره اقتصادي مورخ دی. دی د آسيا له اقتصاده سم درک لري. خو زه یوې نکتې ته اشاره کوم چې د ټول تاريخ په جريان کې خلک په جګړو کې ښکېل شوي دي؛ که څه هم هېوادونه په اقتصادي توګه پر يو بل تړل شوي وو خو بيا هم دوی جيوپوليتيکي رقابتونه درلودل. لومړی ستر مورخ توسيډيډس د پنوپلوسين جګړو په تړاو خبرې کوي. د دې جګړې په تړاو د توسيډيډس لومړنی توضيح دا وه چې دا جګړه د افتخار، او درناوي له کبله رامنځته شوه. دې جګړې له اقتصاد سره هېڅ سرو کار نه درلود. تاسو د لومړۍ نړيوالې جګړې پرمهال اروپا ته ځير شئ، دا يوه داسې لويه وچه وه، چې په اقتصادي توګه پر يو بل متکي وه. چې اوسمهال هم د نړۍ يو شمېر هېوادونو په ورته ډول سره تړل شوي دي. د انګلستان او جرمني ترمنځ د اقتصادي تړلتيا کچه په يوه داسې مهال کې وه چې دا د دواړو لپاره لېونتوب و چې په جګړه کې دننه شي؛ خو بيا هم دوی په جګړه کې دننه شول. د يو ځوان او مشهور مورخ کتاب دی چې پر همدې حقيقت ولاړ

دی چې شاید انگلستان به په جگړه کې نه وه ښکېل شوی؛ ځکه دا د هغوی لپاره یو شان لېونتوب ګڼل کېده. د کتاب نوم و The pity of War آخ تاسو صبر وکړئ د دې کتاب لیکوال خو پخپله نیال فرگوسن و.

**نیال فرگوسن:** نو بلاخره تاسو زما یو کتاب لوستی دی.

**روډیارډ گریفکس:** وړاندې له دې چې موږ د مناظرې دا برخه پای ته ورسوو، زه ډاکټر هینري کېسنجر ته فرصت ورکوم چې خپلې وروستۍ خبرې وکړي.

**هینري کېسنجر:** زما په آند موږ د نیال فرگوسن پرضد درې پر یو یو. زموږ چینایي ملګری دا ویل غواړي چې چین تر ډېره رنج وړی دی او چین د اروپایي استثماري پېړۍ تر ډېره پارولې ده او دا چې چین نه غواړي پر نړۍ سلطه ومومي. تر کومه ځایه چې زه پرې پوهېږم دی وایي، کله چې لویدیځ غواړي چاپیریال او یا هم مالي نظام بحث کړي نو زموږ تمایل باید دا وي، چې موږ چین هم په دغو خبرو اترو کې ورګډ کړو. چین باید په یوه داسې سېستم کې چې دا یې د جوړولو پرمهال ګډونواله نه وه هم ګډونوال واوسېږي. نو اصلي ستونزه دا ده چې یوځای یو داسې نړیوال سېستم جوړ شي، پرته له دې چې چین پر دغه سېستم سلطه ومومي. دا هغه څه دي چې موږ هم پرې په دې مناظره کې بحث کوو. که چیرې زه د دې چینایي ملګري مشاهده په سمه توګه درک کړم، دی هم نه غواړي چې چین به نړۍ تر خپلې سلطې لاندې راولي. دی وایي چې چین تر ډېره د پیشرفت پر لور روان دی. چین ته باید غوږ کېښودل شي. امریکا باید دوی ته وروستي توکي ورنکړي. باید له دوی څخه په داسې قضایاوو کې لکه د چاپیریالي بدلون په تړاو نظر واخیستل شي. موږ ټول پر دې همغږي یو. نو لحاظا ډېویډ که تاسو غواړۍ تاسو خپله څوکۍ له هغه ځای څخه زموږ پر لوري راوړئ نو موږ به مو هرکلی وکړو.

**روډیارډ گریفکس:** موږ اوس د پوښتنو او ځوابونو برخې ته ځو. موږ دغه د پوښتنو او ځوابولو برخه په یو شمېر فرعي برخو ویشلې ده. دا برخې اقتصادي، سیاسي، کلتوري او جیوپولیتیکي دي. اوس موږ د اقتصادي برخې په تړاو پوښتنې پېلوو. زه غواړم چې لیدونکي پوښتنو ته راوبولم چې په دې برخه کې یې یو شمېر تر ټولو زیات پلورل شوي کتابونه لیکلي. آغلې ډمبیزا مومیو!

**ډمبیزا مومیو:** زه له ښاغلي ډېویډ لي او نیال فرگوسن څخه پوښتنه لرم. تر اوسه د چین د پرمختیایي ستراتیژۍ کیلي د هغوی نرم ځواک و. د هغوی د پراخو وسایلو راټولونه او طبیعي وسایلو په تېره بیا ځمکې، اوبه، انرژۍ او کانونو ته لاسرسی و. او په ډېرې توګه په عامه توکو لکه په نړیواله کچه د ملي امنیت په تړاو بیمه ګر و. په بل مفهموم؛ دا څومره ممکنه ده چې چین د خپل نرم ځواک له استراتېژۍ څخه پر کلک ځواک تکیه وکړي؟ له همدې ځایه به دا د افریقا په شرایطو کې نظامي یا کالونیالیستي ستراتېژیو په څېر د وسایلو په راټولونه کې نظامي او کالونیاستي تګلارې خپلې کړي؟

**نیال فرګوسن:** دا ډېره غوره ده چې تاسو هم له ځان سره په دې بحث کې لرو. او زه بې میلانه یم چې د افریقا په تړاو ستاسو پوښتنې ځواب کړم. خو بیا هم ما په تېر کال کې زامبیا، سینیګال او نمیبیا ته سفرونه کړي او داسې برېښي چې په افریقا کې یو څه مهم روان دي. چین یو نوی بشپړ پرمختیایي پروګرام روان کړی دی چې دا بیا د مرستو له پروګرام سره په راډیکاله توګه توپیر لري. او تاسو په خپل کتاب کې په دې تړاو په ټینګار سره ویلي، چې د لویدیځ د هڅو باوجود د مرستو پروګرامونه ناکام شوي دي. د چین دغه پرمختیایي استراتېژي پر شخصي ګټو ولاړه ده. چین طبیعي وسایلو ته رشد ورکوي په تېره بیا د زامبیا د مېسو په کمربند کې؛ ځکه چین په جدي توګه د خپلو نوو ښارونو لپاره مېسو ته اړتیا لري. خو په افریقا کې د چین د دغې استراتېژۍ تاثیرات ډېر زیات بد نه دي. او زما په اند دا تر ډېره د نورو غلط فهمي ده چې موږ به د نولسمې پېړۍ کالونیالېزم ته ور وګرځوو. زما په ذهن کې دا هغه څه نه و چې ما په زامبیا کې ولیدل. کالونیالېزم ته ورګرځېدنه د چینایانو چلند نه دی او دا هغه څه دي چې تاسو پرې په خپل کتاب کې استدلال کړی دی. چینایان پانګونه کوي. هغوی هڅه کوي چې پیسې وګټي. هغوی مارکېټ پربېږدي چې د افریقا اقتصادي پرمختیا پر مخ بوځي بې له دې چې د هغوی اقتصاد پر دوی تکیه شي. او آیا دا به په آخره کې پر یو کړکېچ بدلون ومومي لکه تاسو یې چې توصیه کوئ. د افریقا لپاره یو ستونزمن حالت دی لکه په نوولسمه پېړۍ کې چې و. دا ممکنه ده خو زه یې اوسمهال کومه نښه نه وینم. یوازې یو هېواد چې په افریقا کې په څلورو روان دی؛ هغه چین دی.

**ډیویډ لي:** زه هم غواړم چې د نیال فرګوسن پر دغو سترو نکتو خپل درې عام نظرونه ور اضافه کړم. زما لومړۍ خبره له نبت سره تړاو لري. چین دا نیت نه لري چې د وروستېو پېړیو کالونیالېزم تکرار کړي. د دې برعکس؛ چین له افریقایي هېوادونو سره د همکارۍ په تړاو هڅې کوي. تاسو د افریقایي اتحادیې غونډه له نظره تېره کړئ چې درې کلونه وړاندې ترسره شوه. ډېری افریقایي رهبران او کاروباري خلک په افریقا کې چینایي پانګونو ته لېواله وو. زما دویمه خبره له وړتیاوو/ظرفیت سره تړلې ده. تاسو چین په حقیقي توګه درک کړئ. تاسو باید د چین په تړاو واقع‌بین واوسئ. موږ اوس هم د یو بې وزله اقتصاد درلودونکي یو ځکه زموږ في کس عاید تقریباً ۴۰۰۰ امریکایي ډالر دي. نو زموږ د اقتصادي ودې لپاره دا یو اوږد سفر دی. ضمناً دا ښیي، چې چین اوسمهال هېڅ ظرفیت نه لري، چې ټول افریقایي هېوادونه خپله مستعمره وګرځوي؛ ان که چین یې وغواړي هم.

زما درېیمه خبره په عمومي توګه په خپله د چین په تړاو ده. د چین دننه سترې هڅې کېږي، چې د نویو ټکنالوژیو له استعمال سره وسایل خوندي شي. نوې ټکنالوژۍ د انرژۍ کیفیت ته وده ورکوي. او نوې تګلارې باید خوندیتوب وهڅوي. نو زما په فکر دا روښانه ده چې چین د مډرنایزیشن یو نوی سبک جوړول غواړي. دا به د نړۍ د بې وزلو ملتونو ته هیله مندي ورکړي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

**روډیارډ گریفکس:** ښاغلی هینري کېسنجر زه غواړم له تاسو وپوښتم. آیا دا د هغو هېوادونو لپاره چې تازه تازه نړېوال ځواک شي په دې دام کې راایساریږي؟ تاسو څه فکر کوئ چې چین هم له یو داسې ګواښ سره مخ دی چې له خپل ظرفیت څخه زیات د دغو وسایلو دفاع وکړي؟

**هینري کېسنجر:** دا چې چین د خپلو صنعتونو لپاره ډېر وسایل غواړي دا یوه طبیعي خبره ده. خو دا چې دی بیا پر دې باوري وي، چې دغو وسایلو ته د لاسرسي په موخه باید په نظامي توګه هم سلطه لرونکی واوسي؟ دا نو بیا یوه بېله پرېکړه ده. که تاسو له لومړۍ نړېوالې جګړې دمخه جرمني ته وګورئ، نړۍ شاید د جرمني له دې نظر سره ګذاره کړې وای چې جرمني دې د ځمکې تر ټولو لوی پوځ ولري. خو کله چې جرمني هڅه وکړه چې د نړۍ ستر بحري ځواک هم چمتو کړي، نو دې بیا د انګلستان اوږدمهاله شتون له ګواښ سره مخ کړ. نو همدا لامل و چې هغه مهال دوو ننګونو شتون درلود.

موږ باید په دې پوه شو چې چین به ځواکمنېږي. او موږ نه شو کولای چې د چین د پیاوړتیا هرې نښې ته غبرګون ونښیوو؛ خو چین هم باید خپل یو شمېر محدودیتونه وپېژني چې په بشپړه نړۍ کې د خپلو ګټو د حقانیت په تړاو ګامونه پورته کوي. دا ډول نظرونه باید یوځای واوسېږي. او یوازې د یو هېواد له خوا نه شي ترسره کېدای. چین باید هر څه په همکارۍ ترسره کړي.

**فرید زکریا:** زه غواړم یوازې یوه تبصره وکړم. زه فکر کوم چې ډېرېدل لي وویل په افریقا کې د چین پانګونې ولسي/د خلکو له خوا استقبال شوي دي/عامه خوښې دي. زه فکر کوم له دې پرته به دا ډېره صحیح وي، چې موږ وواېو چې په افریقا کې د چین پانګونې د دکتاتورانو خوښې دي. یو کال وړاندې زه په کینیا کې وم او ما له ځینو پارلماني غړو څخه وپوښتل چې د دوی د ډیموکراسۍ او انساني حقونو په تړاو اساسي اندېښنې څه دي؟ او هغوی وویل چې د دوی یوازینۍ او تر ټولو لویه اندېښنه دا ده چې چین له افریقایي دکتاتورانو سره معامله کوي او هېڅ یوه پوښتنه هم نه پوښتل کېږي. او نه هم د انساني حقونو په تړاو کومه حساب ورکوونه شته. که څه هم دا به مبالغه وي خو یقیناً دا څه داسې څه دي چې دوی به په اوږدمهاله جیوپولیتیکي اړخ کې اندېښمنوي.

موږ فکر کاوه چې د منځني ختیځ له ډېرو هېوادونو سره باثباته اړیکې ولرو خو دا معلومه شوه چې موږ د منځني ختیځ له ټولو دکتاتورانو سره ډېرې باثباته اړیکې لرو.

**نیال فرګوسن:** یوه دقیقه صبر فرید زکریا صاحب. زه له اقتصاد پوه څخه زیات یو مورخ یم. ما تصحیح کړئ؛ آیا تاسو دا ویل غواړئ چې لویدیځو ځواکونو له لویدیځو دکتاتورانو سره هېڅمهال هم معامله نه ده کړې، او دا یوازې د چین په تړاو یوه نوې خبره ده؟ او دا د چین په پالیسۍ کې کومه نوې خبره ده؟ زه هم افریقا ته تللی وم او ما هم هلته د مېسو د کمربند په کانونو کې له یو شمېر کان کېندونکو سره خبرې وکړې. دوی د ملي کانونو

سیستم له سقوط وروسته کارونه نه درلودل او اوس د چینایانو له خوا د دغو کانونو د پرانیستو له کبله یې بېرته کارونه موندلي دي. چینایانو نه یوازې دا چې دا کانونه بیا پرانیستل بلکې پراخ یې هم کړل. دا تر ډېره مناسبه نه ده چې ووایو یوازې چین له افریقایي دکتاتورانو سره معاملې کوي. دا له افریقایي دیموکراسۍ سره هم معاملې کوي. دا په افریقا کې له هر هغه حکومت سره معامله کوي، چې مومي یې. په تېره بیا له هغو حکومتونو سره هم معاملې کوي، چې د لویدیځو حکومتونو له یو شمېر کلونو راهیسې پرېښې دي.

**فرید زکریا:** زه په دې قضیه کې د لویدیځ دفاع نه کوم. زه یوازې دا څرګندوم چې چین چې څه کوي هغه د رهبرۍ له طبقې سره کوي. او دا چې اوسنۍ رهبري د بشپړې افریقایي ولسونو د هیلو استازیتوب نه شي کولای.

**نیال فرګوسن:** آیا تاسو وایئ چې افریقا به هغه مهال غوره شي، که چیرې چین هلته پانګونه ونه کړي؟

**فرید زکریا:** نه! زه دا خبره نه کوم.

**نیال فرګوسن:** آیا د افریقا وضعیت به ښه و که چیرې چین د دوی ستر مشارکت کوونکی نه و؟ زما په اند دا یو ډول منافقانه استدلال دی او دا به زما لپاره ډېره آزاروونکې وه که چېرې زه چینایی وم!

**فرید زکریا:** تاسو یې په څرګنده توګه آزاروونکې مومئ؛ ان تاسو چینایی هم نه یاستئ.

**روډیارډ ګریفکیس:** د اقتصاد په برخه کې غواړم د وروستۍ پېړۍ د یو ډېر اساسي او کامیاب توکي چې آیفون دی په تړاو پوښتنه وکړم. دغه تیلیفون چې په چین کې جوړېږي، برعکس په کیلیفورنا کې ډیزاین شوی دی. هغه سافټ وییر چې دا توکی چلوي د سټیف جابز او د هغه د ټیم له خوا په آپل کمپنۍ کې جوړ شوی و. هغه «واو» کیفیت چې دغه ابزار خلک تقاضا کولو ته هڅوي، ما هم هڅوي چې له ډیویډ لي او نیال فرګوسن څخه پوښتنه وکړم. آیا چین به هم لکه اپل او یا ګوګل او کاناډایي رېم په څېر نوښت وکولای شي. څکه که دوی غواړي چې یوویشتمه پېړۍ په خپله سلطه کې واخلي نو دوی یې باید وکړي؟

**ډیویډ لي:** زما ځواب دی، هو! چینایان یې هم کولای شي. په یاد ولرئ هېڅ بې وزله هېواد هم په یوه شپه کې نوښت نه شي کولای. دا د زده کړې یوه اوږده پروسه ده. لکه مخکې مې چې وویل، دا له خلاصبدنې سره تړاو لري. له لویدیځ څخه دا زده کول چې هلته څه کار کوي او بیا یې په چین کې عملي کول. اروپا ته په سلګونه زره محصلین لېږل څو دوی هلته زده کړې وکړي او بیا په تدریجي توګه د نوښت پر لور ولاړ شي. نږدې دېرش کاله وړاندې چین نوښت نه شو کولای. خو اوسمهال موږ چټک رېل ګاډی لرو، خو په بل اړخ کې د امریکا متحده ایالات اوس هم په دې برخه کې هڅې او زیار کوي. نن موږ موټرونه لرو چې نه یوازې ارزانه دي، بلکې د جنرل موټر له خوا د جوړو شویو موټرونو په پرتله ډېر باکیفیته/موثره هم دي. دا په یاد ولرئ، چې د جنرل موټر

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ډېرى ګټه اوسمهال هم له چين څخه راځي. که  دا د چينايي عملياتو په تړاو نه واى، نو دې به د امريکايي حکومت ډېرى پيسې د نجات په موخه مصرف کړې وې. دا يو ساده حقيقت دی.

زه باوري يم چې چين به په اوږدمهال کې نوښت وکړي. دا يو تدريجي پروسه ده. خو دا چې چين به په راتلونکي کې آيفون ولري يا نه دا بله قضيه ده. دا د نوښت يوه بېله کچه ده. د آيفون او آی پاډ په څېر توکي يوازې په امريکا کې جوړېدای شي. خو په بل اړخ کې چين بېلې اقتصادي او ټولنيزې اداري لري او دا به د نوښتونو د عملي چلندونو په وروستيو مرحلو کې وي. خو تاسو اړتيا نه لرئ، چې د نوښتونو د عملي روښونو په وروستۍ مرحله کې واوسېږئ ځو تاسو په نړۍ کې د درناوي وړ او مهم هېواد په توګه وپېژندل شئ.

**نيال فرګوسن:** تاسو پوهېږئ، چې ما د آيفون په تړاو دا ډول کيسه څو ځله اورېدلې ده. دا د لويديځ د ځان خوښۍ نښه ده. دا داسې ده، چې موږ به تل د غوره نظرياتو درلودونکي و اوسېږو او نور به تل زموږ جوړې کړې پورزې يوځای کوي. دغه مفکوره اوس لس کلنه تاريخ تېره ده. موږ دلته د راتلونکي په تړاو خبرې نه کوو، چين به په راتلونکو څو کلونو کې له جرمنۍ څخه په نړيوال پېژندل شوو پېټنټ په برخه کې مخکې شي. او دا د چين د تعليمي ادارو د سترو هڅو له کبله ده. لکه په کوم ځای کې چې ډېويډ کار کوي؛ هلته هغوی د څېړنې او پرمختيا مقابله زياتوي او دکتورا لرونکي کسان توليدوي. او زه په مطبوعاتي مطالعاتو کې د دکتورا په تړاو نه غږېږم، بلکې په انجنيرۍ او فزيک کې له دکتورا لرونکو کسانو په اړه غږيږم.

**روډيارډ ګريفکس:** فريد زکريا! زه غواړم په دې تړاو ستاسو نظر هم واخلم. آيا چين د پرانيستې او آزادې ټولنې پرته نوښت کولای شي؟

**فريد زکريا:** لومړى غواړم دا ووايم چې زه له نيال فرګوسن او ډېويډ لي سره په دې قضيه کې همغږى يم. دا يوه غلطي ده که پرې باور وکړو، چې يو ډول جنيتيکي خصوصيت چين نوښت ته نه پرېږدي. يقيناً هغوی به هم نوښت وکړي، هغوی به هم يو شمېر د لېوالتيا وړ توکي جوړ کړي؛ خو کومه نکته چې زه او هينري کېسنجر په متواتر ډول بيانوو، هغه دا ده چې هغوی به هم نوښتونه وکړي؛ خو موږ به هم نوښتونه وکړو. او په دا ډول به دا د نوښتونو څو تعدده نړۍ وي. همدا لامل دی چې ما پر خپل کتاب د چينايي يا هندي نړۍ کتاب نوم کېښود. دا به بې له شکه «له امريکا وروسته نړۍ» وي، چې په دې کې به ډېر زيات نوښتونه کېږي.

خو زه يو بل فکر هم لرم. که تاسو آپل ته وګورئ او فکر وکړئ، چې نوښت څه ته وايي. په عمومي توګه آپل په اوسنۍ نړۍ کې د تر ټولو نوښتګرې کمپنۍ په توګه پېژندل کېږي. دا په ټولو لېستونو کې پر لومړۍ مقام ده. آپل په يوه لسيزه کې په پرمختيا او څېړنه کې هومره مصرفوي لکه مايکروسافټ يې چې په يو کال کې مصرفوي. که تاسو پر څېړنې او پرمختيا د مصرف شوو لګښتونو لېست وګورئ نو آپل پکې په ۸۵ نمبر دی. آپل په دې تړاو

پنځوس سلنه کم د کمپیوټري کمپنیو څخه مصرفوي. د آپل نوښتونه په دا ډول طرحه شوي لکه بشر چې د ټکنالوژۍ استعمال په ذهن کې کوي. دا هغه څه دي، چې تاسو به یې زده کړئ که تاسو په رسنیزو مطالعاتو کې دکتورا ترلاسه کړې وي. او دا هغه څه دي، چې په ټول تاریخ کې ریښتیا ثابت شوي دي.

د جامو ګنډلو د ماشین له اختراع سره، د سینګرا کمپنۍ ستره وړتیا دا نه وه، چې دا ماشین یې جوړ کړ، بلکې د دوی وړتیا دا وه، چې دوی دغه ماشین پر مېرمنو پر قسطونو وپلوره. له دې وړاندې هېڅا هم پر مېرمنو په دا طریقه ماشین نه و پلورلی. د ګوګل ستر نوښت به هم شاید په حقیقت کې د دوی د پلټنې انجن نه وي، بلکې دا به شاید د دوی د اعلان کوونې پروګرام وي، چې د پلټنې انجن سره یوځای ډیزاین شوی دی. نو د «نوښت څه دی؟» یوه برخه د ساینس او مصرف کوونکي چلند یوه عجیبه ترکیب دی. زما په اند هغه ستر نوښت چې کاپیټالیزم یې پر لاره واچوو هغه د حسابونو ساتنه وه. دا کوم ساینسي علم نه و. یقیناً چین به هم په خپله طریقه نوښت وکړي؛ خو د امریکا د ایکو سیستم په تړاو یو داسې څه شته چې نن موږ هر څه پېژنو نو هغه دوی جوړ کړي دي.

دغه راز زما په اند امریکایان دا وړتیا لري، چې پورتني پاړکي وپوښتي. دا بیا د نوښت په تړاو یوه مطلقه کیلي ده. ما له ډېرو خلکو اوریدلي، چې د امریکایي زده کړې او ماشومانو لویولو پر طریقې خبرې کوي. زه هم له اسیایي پوهنیز سیستم څخه تېر شوی یم. دا یو ډېر بې زاره کوونکی سیستم دی. دا سیستم تر ډېره د سترو امتحانونو په تړاو پر حافظې ولاړ وي او کله چې تاسو امتحانونه ورکړئ نو څه مو چې زده کړي وي، وروسته یې هېروئ. امریکایي سېستم له دې غوره دی. ځکه دا محصلین فکر کولو ته هڅوي. دا محلصینو ته د ستونزو د حلولو په تړاو لارښوونې کوي. دا محصلینو ته ښیي، چې په خپل ټول ژوند کې د زده کړې له بهیره پرې نه شي. او دا هېڅوک هم پر ناکامېدو نه شرمنده کوي. په باکیفیته توګه ناکامي د نوښت یوه ډېره ځواکمنه برخه ده. چین به هم نوښت وکړي؛ خو زما په اند دا هغه څه دي، چې امریکا بیا په دې برخه کې بې سارې ده.

**روډیارډ ګریفکس:** زه غواړم د پوښتنو-ځوابونو دویمې برخې ته ولاړ شم، چې دا برخه د سیاست او کلتور په تړاو ده. د دې برخې د پیلولو په تړاو زه له جېنېس انېستېین څخه چې د مونک مناظرو د نړیوالو چارو مکتب مشره ده غواړم چې دغه برخه له خپلې پوښتنې سره پیل کړي.

**جېنېس انېستېین:** زما پوښتنه له ډیوېډ لي او فرید زکریا څخه ده. په دې وروستېو کې نړۍ په ډېره لېوالتیا سره ولیدل چې یو شمېر ځوانانو د تونس او مصر په څلورلارو کې د سیلابونو په بڼه راووتل او د سیاسي حقونو تقاضا یې وکړه او ترڅنګ یې دا هم وغوښتل چې فاسد رهبران دې د واک له ګدۍ څخه ښکته شي. اوسمهال د عربي نړۍ او چین  مقایسه لرې ده؛ خو بیا هم چین یوه رسېدلې ټولنه ده؛ عربي نړۍ یوه ځوانه ټولنه ده. چین په سلهاوو میلیونه کاري فرصتونه زیږولي؛ خو عربي نړۍ بیا داسې نه دي کړي؛ خو چین هم د عربي نړۍ

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

په څېر مخالف عقیده لرونکي خلک نه شي زغملی او بیا هم لکه د عربي نړۍ په څېر په چین کې هم ورځ تر بلې د عایداتو د وېش زیاتېدونکې نابرابري شته ده. نو زما پوښتنه ده چې چین به څنګه د رهبرۍ له انتقالي پړاو څخه تېرېږي، په چین کې به د سیاسي حقونو په تړاو زیاتېدونکې تقاضا رامنځته شي او څنګه به د چین رهبري له دې حالت سره چلند وکړي؟

**ډېویډ لي:** مننه چې تاسو دا پوښتنه راپورته کړه. زه باوري وم چې دا ډول پوښتنې به په دې مناظره کې رابرسېره کېږي. زه اړتیا نه لرم د عرب پسرلي بېلګه راپه یاده کړای شي؛ ځکه مونږ له لومړۍ ورځې پوهېدو چې دا ورځ هم راتلونکې ده. په چین کې خلک پوهېدل چې په عربي نړۍ کې به نوي غږونه واورېدل شي. هلته به د نظرونو د څرګندولو حق او په پرېکړو کې د سیاسي ګډونتیا تقاضا کېږي. په چین کې خلک له لومړۍ ورځې پوهېدل چې اقتصادي او اداري بدلون به له سیاسي او اقتصادي بدلون سره یوځای روان وي. زما په اند د چین په تړاو تر ټولو ستر سوء تفاهم دا دی چې موږ سیاسي بدلون نه لرو. خو حقیقت دا دی چې موږ یې لرو په تېره بیا زموږ د رهبرۍ ټاکنه. نن چې څرنګه زموږ رهبري ټاکل کېږي او چې څنګه عامه پرېکړې ترسره کېږي دا د پخوا په پرتله ډېرې بدلې شوې دي. په چین کې ځوانان خپل نظریات د انټرنېټ له لارې څرګندوي او په ډېرۍ بېلګو کې د هغوی غږونه اورېدل کېږي. او ما پرېکړې د دوی د غږونو له تطابق سره بدلې شوې لیدلي دي. نو زه له تاسو ټولو غواړم چې چین ته ولاړ شئ، هلته له ځوانانو سره خبرې وکړئ، چینایي ویب سایټونو ته سر ور ښکاره کړئ، څو د رفارم له نوي مېتود څخه خبر شئ او له دې هم خبر شئ چې خلک څرنګه خپل نظریات او ناخوښي په یو شمېر برخو کې څرګندوي. او په یو شمېر لارو کې به تاسو دا هم ومومی چې څنګه پرېکړه کوونکي د خلکو او په تېره بیا د ځوانانو نظریات په پام کې ساتي.

**فرید زکریا:** زه به له ډېویډ لي سره په دې تړاو پنځه کلونه وړاندې همغږی وای. دا یوه ډېره روښانه ده چې هلته د یو حقیقي او سیاسي رفارم پر لور یو تدریجي او محدوده خوځښت روان دی؛ خو زما په اند په وروستیو پنځو کلونو کې اقتصادي رفارم او اقتصادي ودې د سیاسي رفارم ځای نیولی دی. خو تر اوسه د سیاسي رفارم په برخه کې ډېر څه نه دي شوي. او د نړۍ په بېلابېلو برخو کې په تېره بیا عربي پسرلي د چین لپاره ستونزمنه کړې چې سیاسي کنټرول ټینګ کړي. هغه څه چې موږ په چین کې نه وینو هغه د پرانیستنې په تړاو تمایل دی. او داسې هڅه، چې پکې د یو شمېر سیاسي رفارمونو لړۍ اعلان شي، په حقیقت کې د تمبېدو پر لور روانه ده. که تاسو په چین کې په ګوګل کې د جاسمین انقلاب په تړاو وپلټۍ نو تاسو به له یوې خالي صفحې سره مخ شئ. ځکه هلته دا وېره شته چې دغه انقلاب به په چین کې رېښې پیدا کړي. که په مجموعي توګه تاسو انټرنېټ ته

وګورئ نو چین د یو شمېر مراجعو په اند څو میلیونه خلک د چین د انترنیت پر څارنې بوخت کړي؛ ان د موبایل میسجونه هم تر څارنې لاندې دي.

زه به تاسو ته په دې تړاو خپله شخصي تجربه بیان کړم. ما د خپل پروګرام لپاره د چین له لومړي وزیر وین جیاباو سره مرکه درلودله. دا مرکه ډېره زیاته ارزښتمنه وه چې ما یې د ترسره کولو ویاړ ترلاسه کړ. د چین حکومت د مرکې په تړاو خبر خپور کړ؛ ځکه دا مرکه یې مهمه بلله. د چین لومړي وزیر وین جیاباو د چین په تړاو چې څرنګه به سیاسي او تدریجي تکامل ومومي یو شمېر پرځای او بې ضرره تبصرې وکړې. خو دغه مرکه د چین پر تلویزون خپره نه شوه او له چینایي ویپ پاڼو هم بېرته لرې کړای شوه. په غبرګون کې د یو شمېر چینایي ژورنالستانو یوې ډلې په دې تړاو چې دا مرکه سانسور شوې ده اعتراض وکړ. خو د دوی دغه اعتراض لیک هم د دوی له ویپ پاڼې څخه لرې کړای شو. دا زما لپاره د سیاسي رفارم کومه بېلګه نه ده. دا یوه داسې اندېښنه او وېره ده چې په بل قدم کې به څه پېښ شي. په روښانه توګه چین د خپلو خلکو لپاره ډېرې ازادۍ ورکړې دي؛ زه پرې هېڅ شک نه کوم؛ خو دوی باید تشخیص کړي، چې دوی به کوم ډول سیاسي سیستم یا نظام جوړوي چې زیاتېدونکی منځنی پاړکی د دغه سیستم دننه مساعد کړي. هغه هم په یوه داسې نړۍ کې چې خلک له خپلو مشرانو څخه د ډېرې حساب ورکوونې غوښتنې کوي.

کله چې هند او چین له یو بل سره پرتله کړو نو فکر کوم چې چین خپلې ټولې وړې ستونزې حل کړي دي. دوی غوره سړکونه او غوره لویې لارې او چټک رېل ګاډۍ جوړ کړي دي. او دا ټول یې په داسې مجلله طریقه ترسره کړي دي، چې هند له خجالت سره مخ کوي. خو په بل اړخ کې هند خپله یوهستره ستونزه حل کړې، چې دې بیا هند له چین څخه پنځه ویشت کلونه وړاندې بیولې ده. هند به لکه اوسمهال همداسې لېونۍ او بې نظمه ډیموکراسي ولري. چین به په سیاسي لحاظ له نن څخه پنځه ویشت کلونه وروسته څنګه وي؟ آیا هغه مهال به هم مندرین مشران وي؟ اوسمهال د چین کمونست ګوند په نړۍ کې تر ټولو لوی ګوند دی. هلته هر څوک د ډیویډ په څېر برېښي. ډېری یې د دکتورا سند لرونکي دي. ټول یې انجنیران دي؛ خو دا بیا ټول چین نه دی. ځکه پر کومو خلکو چې دوی مشري کوي هغوی په پراخه کچه زارعین دي او دغه خلک په دې سیاسي سېستم کې منعکس شوي نه دي. د هغوی نظریات تر ډېره بریده د بېلابېلو میکانیزمونو لاندې فلټر کېږي. دا د چین لپاره یوه ستره سیاسي ننګونه ده که چیرې پرمختلل غواړي.

**روډیارډ ګریفکس:** ډاکټر کېسنجر زما په فکر په دې برخه کې اوریدونکي او لیدونکي ستاسو نظر هم اوریدل غواړي؟

**هینري کېسنجر:** زه باوري یم چې په راتلونکي لسیزه کې به چین له دې ستونزې سره لاس و ګرېوان وي، چې څرنګه به خپلې سیاسي ادارې له اقتصادي پرمختیا سره په تطابق کې راولي. کله چې پراخ اقتصادي بدلونونه

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

رامنځته کېږي، خلک له یوځای څخه بل ځای ته کډه کوي. د زده کړو ترلاسه کول پراخېږي، نو له دې پوښتنې څخه تېښته ناممکنه ده. او دا به د نوې رهبرۍ لپاره یو له غالبو ستونزو څخه وي او دا پوښتنه به په یو یا یو نیم کال کې رابرسېره شي. پرته له دې څخه چې دا به لویدیزه پارلماني ډیموکراسي وي او یا د سیاسي نظامونو یو نوی شکل چې موږ تر اوسه نه دی لیدلی؛ خو عاقبت به یې دا وي، چې په دې کې به شفافیت او ډېر مشارکت شامل وي. او زه باوري یم چې د نوې رهبرۍ بدلون به د دې انعکاس وي. همدا لامل دی، چې زه باوري یم چې یو هېواد به، چې له یو داسې اساسي بدلون سره مخ وي، هېڅ وخت داسې فرصت ونه مومي چې هغه دې پر نړۍ د تسلط موندلو ته پاملرنه وکړي؟!

**روډیارډ ګریفکس:** زه له نیال فرګوسن څخه غواړم چې په دې تړاو خپل غبرګون وښيي.

**نیال فرګوسن:** ما یو څو کلونه وړاندې یو کتاب لوسته، چې عنوان یې و: د آزادۍ راتلونکی. په دې کتاب کې یو تکړه ځوان ژورنالېست استدلال کړی و، چې لویدیزه دیموکراسي په تېره بیا امریکایي دیموکراسي له یو شمېر ستونزو سره مخ ده او دا ستونزې به یې نورې هم زیاتېږي. اوو فریده! دا خو ته وې!

زه درک کوم چې ډاکټر کېسنجر به هم له ما سره په دې تړاو همغږی وي؛ خو دی اړتیا نه لري، چې خپله څوکۍ زموږ خوا راوړي. دا به زموږ ستره تېروتنه وي، که چېرې موږ فکر وکړو چې لویدیزه ډیموکراسي یو نړیوال ماډل دی چې له اوس څخه تر ۲۰۵۰ کال پورې به یې هر څوک خپلوي. که چیرې تاسو همدا فکر وکړئ، چې د نړۍ راتلونکی به همداسې وي، نو تاسو بلاخره د مأیوسۍ سره مخ شۍ. له منځني ختیځه به یې پېل کړو، په دغو هېوادونو کې د لویدیزې ډیموکراسۍ چانس تر ډېره له صفر څخه تر ۵ سلنه دی.

د بدیلو ماډلو امکان هغه څه دی، چې ډېویډ لي په خپلې پېلیزې وینا کې ورته اشاره وکړه. او زه غواړم چې تاسو په دې تړاو جدي فکر وکړئ چې دا خبره څه معنی لري. سېنګاپور د یاسمین له انقلابونو وېره نه لري. سېنګاپور پخپله یو ماډل دی. چین هم تاسو د یو لوی او تکنوکرات سېنګاپور په څېر وبولئ، چې یو ګوندیز دولت پکې په ارتقایي توګه پرمخ ځي او ځان پکې له تراژیدیو (لکه د شوروي د تجربې سقوط ) څخه خوندي کوي.

زما دویمه نکته چې موږ پکې تر ډېره مخالف نظر لرو هغه دا ده: چې کله ملتونه له داخلي سیاسي ستونزو او ننګونو سره مخ وي، نو دوی تر ډېره د تهاجمي بهرنیو چارو پر لور ځي. دا د لرغوني او اوسني تاریخ له لوستونو څخه یو لوست دی. همدا لامل دی، چې زه فکر کوم، چې د سیاسي فشارونو پرمهال به موږ یو نشنلېست او ځواب ورکوونکی چین ووینو. ځکه نو زه وایم چې یوویشتمه پېړۍ به یوه چینایي پېړۍ وي!

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)